**د جګړې د بندیانو په اړه د قرانکریم قطعي حکم نېکي کول دي او که فدیه؟**

نبیل ابوالعبد ته!

پوښتنه:

السلام علیکم ورحمت الله!

موږ په خپلو کتابونو کې د بنو قریظه د یهودو اړوند د سعد بن معاذ د پرېکړې په اړه روایت وینو، چې پکښې راغلي: نارینه یې دې ووژل شي، مالونه یې دې غنیمت شي او ښځې یې دې مینځې شي؛ خو د جګړې د بندیانو په اړه د قرانکریم حکم بل ډول دی، من (زړه سوی یا احسان کول) یا فدیه: ایا د سعد دا پرېکړه د قران له حکم سره په ټکر کې نه ده او که دغه روایت له پامه وغورځوو، نو په دې اړه بل کوم وضاحت شته؟

ځواب:

وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

ستاسي د پوښتنې لنډ ځواب د اسلامي شخصیې کتاب د دویم ټوک د «جګړې د بندیانو» نومي څپرکي کې ورکړل شوی. په هغه ځای کې د سعد بن معاذ رضی الله عنه د دې پرېکړې په اړه داسې راغلي دي:

«که چېرې مسلمانان په جګړه کې خپل دښمن د بندي په توګه ونیسي، نو د دوی په اړه یوازې خلیفه حکم کولی شي؛ د جګړې قومندان، د پوځ امیر او هغه څوک چې دوی یې نیولي، هېڅ یوی دا حق نه لري چې د دوی په اړه پرېکړه وکړي. که چېرې یو جنګیالی په جګړه کې نیول کېږي، د ده په اړه یوازې خلیفه حکم کولی شي او خلیفه د بندیانو په اړه هغه حکم کوي، چې په شریعت کې ورته ټاکل شوی وي. د قرانکریم له نصوصو سره سم خلیفه دا حق لري، چې د جګړې بندي د ترحم او یا هم د فدیې د ورکړې له مخې ازاد کړي. نو د جګړې د اسیر حکم من او یا هم فدیه ده، هغه هم د الله سبحانه وتعالی له دغه قول سره سم:

**﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا﴾**

[محمد: ۴]

***ژباړه:*** *کله چې له دغو کافرانو سره په جګړه کې مخامخ شئ، نو ستاسې لومړی کار دا دی چې د هغوی ورمېږونه ووهئ، کله مو چې هغوی وټکول، بیا نو بندیان کلک وتړئ. له هغې وروسته ستاسې خوښه، چې*

*نښېگنه کوئ، يعنې دوی وړيا خوشې کوئ او که د دوی د ازادولو په بدل کې د فديې معامله کوئ؛ تر هغې پورې چې جنگيالي پخپله وسله وغورځوي.*

دا د جگړې د بنديانو په اړه واضح حکم دی.

له دې ټولو څخه څرگندېږي چې يوازې خليفه د جگړې د بنديانو د حکم په اړه پرېکړه کولی شي: هغه کولی شي چې له دغو دوو څخه پر يوه عمل وکړي او هغه من (ترحم) او يا هم فديه ده. د هغه روايت په اړه بايد وويل شي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بنو قريظه نارينه ووژل، هغه د خاين د خيانت کولو د حکم پر بنسټ وو، نه د جگړې د بنديانو په توگه.

د جنگي بنديانو د حکم په اړه لکه څنگه چې پورته يادونه شوه، يوازې دوه اختياره شته چې هغه به يا من وي او يا هم فديه، نه بل څه. همدا دوه حکمونه به د قيامت تر ورځې پاتې وي. که چېرې اسلامي دولت له خپلو دښمنانو سره جگړه کوي او بنديان نيسي، نو له همدې دوو حکمونو (ترحم يا فديې) څخه به کار اخلي.» پای.

په قرانکريم کې د جگړې د بنديانو په اړه همدا ترحم او فديه د قطعي او ثابت حکم په توگه راغلي دي.

**﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا﴾**

[محمد: ۴]

***ژباړه:*** *کله چې له دغو کافرانو سره په جگړه کې مخامخ شئ، نو ستاسې لومړی کار دا دی چې د هغوی ورمېږونه ووهئ، کله مو چې هغوی وټکول، بيا نو بنديان کلک وتړئ. له هغې وروسته ستاسې خوښه، چې نښېگنه کوئ، يعنې دوی وړيا خوشې کوئ او که د دوی د ازادولو په بدل کې د فديې معامله کوئ؛ تر هغې پورې چې جنگيالي پخپله وسله وغورځوي.*

همدا د هغو جنگياليو په اړه چې مسلمانانو ژوندي نيولي وي او د جگړې د بنديانو په توگه د مسلمانانو له لوري نيول شوي وي، څرگند او صريح حکم دی.

خو هغه څه چې د بنو قريظه سره وشول، هغه تر دې عنوان لاندې نه راځي او د هغوی مسله د جگړې د بنديانو په څېر نه وه. هغه داسې رامنځته شوه: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم بنو قريضه د جگړې لپاره محاصره کړل، نو دوی خپله د ځان په اړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم حکم ته تسليم شول. دوی ومنله چې له جگړې پرته به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته تسليمېږي او دوی ومنله چې د سعد بن معاذ له شرايطو سره سم به

وسله پر ځمکه ږدي. بخاري شريف د ابوسعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت کوي: کله چې بنو قريظه وو د سعد بن معاذ منځګړيتوب ومانه، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ده ته خبر ورکړ، چې راشي. سعد پر بوده سپور راغی او کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته رانږدې شو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم انصارو ته وويل: خپل مشر ته پاڅېږئ. دی راغی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم څنګ ته کېناست. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل:

**«إِنَّ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ «قَالَ فَإِنِّي أَحْكُمُ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ قَالَ» :لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ»**

*__ژباړه:__ دوی ستا د حکم پر اساس موږ ته تسليمېږي، هغه ورته وويل: زه حکم کوم چې نارينه يې دې ووژل شي او ماشومان يې دې ونيول شي. رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: په تحقيق سره تا د الملک (الله سبحانه تعالی) د حکم پر اساس حکم وکړ.*

په صحيح البخاري کې له عايشې رضی الله عنها څخه روايت شوي، چې وايي: سعد رضی الله عنه د خندق په ورځ د حبان بن العرقه په نامه يوه قريشي له خوا په غشي سره ټپي شو. دی حبان بن قيس و، چې د بن معيص بن عامر بن لوی تر بيرغ لاندې جنګېدو. غشی د ده په بيجلکه کې لګېدلی و، نو ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم په مسجد نبوي کې نژدې خېمه ورته درولې وه، ترڅو ورته نږدې وي او ليدو ته يې ورشي. کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له خندق څخه راستون شو، نو خپله وسله يې کېښوده او سعد ته يې غسل ورکړ. جبريل عليه السلام ورته راغی، له خپل سر څخه يې دوړې وڅنډلې او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: ايا تا خپله وسله کښېښوده؟ په الله قسم ما خپله وسله نه ده ايښې، هغوی ته ورشه... رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: چېرې؟ هغه د بنو قريظه لور ته اشاره وکړه. رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی ته ورغی، هغوی سعد د منځګړي په توګه ومانه، سعد رضی الله عنه وويل: زما حکم دا دی، چې نارينه يې دې ووژل شي، ښځې او ماشومان يې دې ونيول شي او مالونه يې دې تقسيم شي.

له دغو مبارکو احاديثو څخه ښکاري، چې بنو قريظه د مسلمانانو له لوري د جګړې د بنديانو په توګه نه وو نيول شوي. له همدې امله د جګړې د بنديانو حکم نشي پرې کېدای. له حديثو څخه ښکاري چې دوی د سعد ابن معاذ پرېکړه منلې وه او يا د رسول الله صلی الله عليه وسلم پرېکړې ته يې غاړه ايښې وه او هغه بيا د معاذ پرېکړه ومنله. يعنې دوی د منځګړي کس حکم منلی و. د ده حکم داسې و چې جنګيالي يې دې ووژل شي، اولادونه او ښځې يې دې ونيول شي او مالونه يې دې غنيمت او ووېشل شي. د دوی په اړه د سعد رضی الله عنه پرېکړه د الله سبحانه تعالی له حکم سره سمه وه.

له همدې امله د دغې پېښې او  د جګړې د بنديانو د حکم په اړه چې د قران کريم د نص له مخې ثابت دی، هيڅ ډول ټکر نشته؛ ځکه هره مسله د جلا مضمون تر عنوان لاندې راځي. د دې اړتيا نشته چې د احاديثو مانا دې رد شي، ځکه د قرانکريم له مبارکو اياتونو سره يې کوم ټکر نشته.

هيله مند يم چې مسله روښانه شوې وي.

**ستاسې ورور،**

**عطاء بن خليل ابو الرشته**

**۳ ربيع الاول ۱۴۴۱ هـ ق**

**۲۰۱۹م کال، د اکتوبر ۳۱مه**